Kreis Viersen • Rathausmarkt 3 • 41747 Viersen

سرلیک
نوم تخلص
واټ
پوستي کوډ

Viersen, 15.03.2024

**د Viersen ولسوالۍ د ښه راغلاست لیک**

محترم والدین،

د Viersen ولسوالۍ د ولسوال په حیث زه په نښه ستاسې د زیږدلي ماشوم لپاره تاسې ته د زړه له کومي مبارکي وایم.

د نوي زیږدلي ماشوم سره ډېر بدلونونه تجربه کوئ، تاسې ښکلې او نوې تجربې راټولوئ. همدارنګه کیدی شي پوښتنې، شکونه یې یقیني یا ننګونې هم راپورته شي.
د همدې لپاره د Viersen ولسوالۍ تاسې ته له ټاکلې مودې مخکې د مرستې خدمتونو په اړه معلومات وړاندې کوي.
د دې خدمتونو یو مهم جز لومړنۍ مرستې دي.

**لومړنۍ مرستې** د 0 څخه تر 3 کلونو پورې عمر ماشومانو لرونکې کورنیو لپاره د ملاتړ ډېر شمېر انتخابونه شتون لري. دا خدمتونه د اړتیا او ټولنیزې فضا پربنسټ دي او وړیا دي.

په ځانګړې توګه غواړم ستاسې پام **د کورنۍ روغتیا او د ماشومانو نرس (FGKiKP)** لخوا وړاندې کېدونکې وړیا ملاتړ ته راواړوم.
ستاسې د نوي زیږدلي یا کم عمره ماشوم په اړه د ټولو پوښتنو لپاره، د بیلګې په توګه د تغذیه، خوب، پاملرنې او همدارنګه ودې په اړه خلور د کورنۍ د روغتیا او د ماشومانو نرس ستاسې چوپړ کې دي. پدې تړاو ستاسې اړتیاوې په حساسیت درک کېږي او د پام وړ ګرځي. تاسې کولی شئ د ماشومانو روغتیایي مرکزونو او همدارنګه ځینې د کورنیو مرکزونو کې وړاندې کېدونکې مشورې خدمتونو څخه ګټه پورته کړئ. مشورې تل د رازساتنې التزام سره مخ دي او ممکن دي چې حتی په ناپېژانده توګه یا د کورنۍ چاپیریال کې ترسره شي.
د شخصي مشورې، خدمتونو او د ملاقات وختونو لپاره مهرباني وکړئ آغلې Nina Becker سره، تلیفون – 39 02162 1869، بریښنالیک: nina.becker@kreis-viersen.de اړیکه ونیسئ.

همدارنګه د لومړنیو مرستو په اړه نور معلومات دلته www.kreis-viersen.de ومومئ.

علاوه لدې تاسې کولی شئ **آنلاین پورټال "Guter Start Kreis Viersen" (د Viersen ولسوالۍ ښه پیل)** کې په guterstart.kreis-viersen.de کې د خدمتونو او هغه ځوابونو په اړه چې ستاسې لپاره مهم دي، وګرځئ.

Rathausmarkt 3
Viersen 41747
1006-39 02162
landrat@kreis-viersen.de
www.kreis-viersen.de

WIR SIND NIEDERRHEIN
SO GUT. SO WEIT.

د مهمو ټکو لکه د بیلګې په توګه "Kinderarzt " (د ماشومانو ډاکټر) یا "Familienzentrum " (د کورنۍ مرکز) سره په چټکۍ او د پیچلتیا پرته د زده کړې دورو یا د مشورې خدمتونو په اړه یو مناسب وړاندیز ترلاسه کوئ. تاسې دا امکان لرئ چې مستقیم خپل د اوسېدو ځای شاوخوا یا ستاسې د ماشوم د عمر ګروپ لپاره وړاندې کېدونکي خدمتونو پسې وګرځئ.
لدې فرصت ګټه پورته کړئ او آنلاین پورټال "Guter Start Kreis Viersen " (د Viersen ولسوالۍ کې ښه پیل) کې لټون وکړئ.
دا پورټال اوسمهال د جوړېدو په حال کې دی، مګر موږ پدې هڅه کې یو چې وکولی شو ټول خدمتونه ژر تر ژره تاسې ته څرګند کړو. که چیرې ستاسې لپاره کوم خدمت موجود نه وي یا ممکن پوښتنې ولرئ، پدې تړاو مهرباني وکړئ د guterstart@kreis-viersen.de یا 69 18 39 /02162 له لارې اړیکه ونیسئ.
آغلې Becker د ټولو پوښتنو لپاره ستاسې په چوپړ کې ده.

ستاسې او ستاسې کورنۍ لپاره د غوره روغتیا، انرژي او د ژوند دې نوي پړاو لپاره د هوساینې او رضایت هیله مندي لرم.

په درنښت
ستاسې ولسوال

ډاکټر Andreas Coenen (انریاس کوینن)

د ژباړو لپاره مهرباني وکړئ
د QR کوډ سکېن کړئ:

ضمیمې:
د انلاین پورټال "Guter Start Kreis Viersen " (د Viersen ولسوالۍ کې ښه پیل) معلومات پاڼه
د "KITA-ONLINE" (د آنلاین ماشومانو ورځنۍ پاملرنې مرکز) بروشور

Rathausmarkt 3
Viersen 41747
1006-39 02160
landrat@kreis-viersen.de
www.kreis-viersen.de